سراج الحق ببرک زی خدران ۲۰۱۶/۰۱/۰۹

د پښتونولی حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوجیک بنسټ

لسمه برخه او ورستی برخه

۸ . د پښتونولی د حجري او جومات کانسپټ

هرکله داستان چې د افغان لیکم، پوه شه پت او ننګ د مسلمان لیکم (حمزه بابا لیکي)
پښتنه ټولنه کي حجره د خبرواترو، اند جوړولو، د ولسي یووالي ځای، د میلمه استوګنځای، د میلمه پالني، د عزت او درنښت یوه خونه ده.کلیوال پښتانه په جومات کي د الله (ج) د عبادت او ديني عقيدت لپاره را غونډیږي. پښتانه افغانان د اسلامیت فلسفه په جومات کي زده کوي او د افغانیت فلسفي اصول نرخونه، دودنه، اخلاقي معیارونه په حجرو کي زده کوي. له همدي امله پښتنه ټولنه کي پښتو ته په هر کلي کي د حجري او جومات شتون خورا اړین بریښي. د افغانیت ارزښتونو او کلیوالي جوړښتو پر بنسټ کلي کي حجره او جومات باید ځنګ په ځنګ وي.
پښتانه په دې ګړوهه دي، چې یو بنه پښتون یوښه مسلمان دی. د بیلګې په ډول ځیني پښتانه په دې اند دي، چې د پښتو قانون مو دومره اسلامي دی، که اسلام نه وای، نوبیا هم به مسلمانان وای. پښتنه ټولنه کي د پښتونولي ډیر اصول او ارزښتونه د اسلامي ارزښتونو سره مطابقت لري. د پښتونولي د ننګ او غیرت اصول د اسلامي شریعت د سریع احکامو په ننګه کي ولاړ دي، نه یې ماتولي شي،او نه یې له پامه غورځولي شي. پښتانه په دې باور دي، چې پښتونولي د پښتنو یو لرغوني دودیزه عدالتي، او د اخلاقي کړو وړو یونا لیکل شوي قانون دی. او د اسلامي شریعت سریع احکام الهي احکام دي.
د همدي ورتوالي له امله پښتانه نشي کولي په یو وړوکي کلي یا کلیوالي چاپیریال کي د پښتونولي او د اسلامي شریعت ارزښتونه سره بیل وساتي. سربیره پردي د حجرې سړی په جومات کي خپل درونډ ځای لري او د جومات سړی په حجره کي د ستر عزت خاوند دی. د حجرې سړی په جومات کي خپل پنځه وخته لمونځ او عبادت کوي او ورسره په جومات کي خپله اسلامي عقیده زده کړې کوي.
د پیړیو پیړیو راهیسي د پښتنو په ټولو کلیوالي سیمو کي د حجرې او جومات ترمنځ نشلیدونکي اړیکي شتون لري. دغو تاریخي اړیکو د دینداره مخلصو پښتنو قبایلو ترمنځ یووالی، سوله، عدالت برابري او مساوات بنسټ ایښودلي دی. حجره او جومات د پښتني ټولني د پایښت او جوړښت دووي خورا مهم ستنې دي. همدلته په کلي کي د افغانانو ترمنځ د اسلامیت او افغانیت د ریښتینولی یو سپیڅلي ولسي ټرون رامنځ ته شوي دی. هرکله چې افغان ملي دولتونو د ولس او دولت ترمنځ واټن لرې کولو هڅه کړې ده، افغان ملي دولت حجرې او جومات ته ورغلي دی. د افغان ملي دولت او افغان ولس ترمنځ د باور او اعتماد اړیکي په حجرو او جوماتونو کي رامنځته کیږي. د پښتني ټولني همدغه دووي ستنې دي، چې افغان ملي دولتونو ته د پایښت، خپلواکي ځواک وربښیي او له کمزوري ساتي. په افغانستان کي د حجرې او جومات بنسټیزه ستنې د دولت او ټولني ترمنځ خورا مهمې اړیکي جوړوي. د حجرې، جومات او افغان دولت ترمنځ متوازنه اړیکي د دې لامل ګرځي، چې د افغان ملي دولتونو او افغان ولس تر منځ واټن لږ شي. د افغانستان په تاریخ کي هیڅکله یوافغان دولت پرته له حجرې او جومات څخه په خپلو پښو نه دی دریدلي. د افغانیت او اسلامیت ملي ارزښتونه دي، چې خپلواک افغانان له سختدریځي او ديني تونديزم څخه منځلاریتوب راګرځوي.
پښتنه ټولنه کي حجره او جومات د عدالت، مساوات او برابري دووي مهمې بنسټیزه ستنې دي. په بله وینا افغانیت او اسلامیت د یو خپلواک افغان دوه وزر دي، چې د یوشتمه پیړۍ په نړۍ کي هم پرې الوځي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کليوال ځوانان په حجرو کې د کيسو او بندار لپاره هم راټوليږي. دوی په حجرو او ديرو کې توکي ټکالي کوي، شعرونه، غزلونه لولي، تنګ ټکور او رباب هم غږوي. کليوال د حجرې د ميلمه پالني مالي لګښتونو کې په مساوي توګه برخه اخلي. د کلي ځلميان د جومات په ساتنه او چوپړ کې ولاړ دي. کليوالو د حجرې او جومات د جوړولو په چاروکې برخه اخلي. د پښتنو د کلي جوماتونه په عبادتکوونکو او مقتديانو باندې ښکلي بريښي او د پښتنو حجرې د پښتنو په درنو ميلمنو ښايسته بريښي.
که سړی ښه ځير شي، له امونه تر اباسنه د پښتنوافغانانو کورونه، د پښتنو کلي د پښتنو د کليوالي ژوند انځور او د افغانانو ټولنيز جوړښتونه له يوبل سره ځښت ډير ورتوالي لري. د پښتنو اړيکې د افغانيت او اسلاميت د ټولنيز تړون له لارې د يوبل سره ټينګ تړلې شوي دي.
په ډير خواشينۍ سره نن د ځلويښت کلن جنګ، جګړو په اور کې د پښتنو د حجرو، ديرو، جوماتونو او ښوونځيو دړې يا دروازې بندي او يا قصداً په بمونو الوځولي او ويجاړي کړلي شوي.
د پښتنو دښمنان د ميلمه په پلمه د پښتنو د ميلمه پالنې څخه ناوړه ګټه اخلي. بې عزته، بې غيرتي ميلمه (دښمن) په ډيره سپين سترګي، بې شرمي سره د پښتنو په حجرو او جوماتونو کې بمي چاودنې کوي، بې ګناه افغانانو کې ځانمرکي بريدونه تر سره کوي، د همدې اوږدې جګړې په بهير کې د پښتنو حجرو، جوماتونو او د پښتنو د کلو ښوونځيو ته ځښت ډير زيانونه او تاوانونه وراوښتي دي او ورسره د پښتنو د ټولنيز ژوند جوړښتونه او د پښتونولۍ د اصولو دوديزه چوکاټ مات کړل شوي دی .
د پښتنو بې غيرته، بې عزته دښمن ميلمه پال ساده پښتون په خپل کور کې ناخبره وژني. پښتانه اوس په خپله حجره کې درونده ميلمه ته د شک په سترګه ګوري. د پښتنو د درونو ميلمنو پرمخ دړې ټرلې شوي دي. نن ځوک ميلمه ته په ورين تندی ښه راغلاست نه وايي. د کليوالو ترمنځ ويره خپره شوي ده. د خلکو د تګ راتګ او ورسره د خپلوي ټولنيزې اړيکې هم پرې شوي دي.
که لږ نور ژور فکر وشي، له پخوا راهيسې لومړۍ انګريزانو ورسته د پنجاب واکدارانو په شعوري او پلان شوي توګه خپل استعماري سياستونه داسې اعيار کړي، چې د افغان پښتون ولس د ويشلو سره سم د پښتنو د حجرو او جوماتونو ترمنځ اختلاف هم رامنځته شي. د روسانو د يرغل پر مهال او د افغان جهاد او مقاومت په ترڅ کې د ساده کليوال پښتون ملا ماغزه د پاکستان د اې ايس اې په سياسي مذهبي مدرسو کې د اسلام په نامه ورپريمينځل شول،د پښتنو ځيني ديني علماوو ماغزو کې د افغانيت ملي احساس او افغاني ملي ارزښتونه فلتر شول، ساده کليوال ملا د يوې مودې تيرولو ورسته بيرته سياسي شوي،او بدل شوي د خپل کلي ورانولو ته د پردي ټوپک سره راغي. د ساده کليوال ملا زوي جنګي قوماندان شو او ورسره دغي ناخبره او ناپوهه استخباراتي ملا په کلي کې د حجرې درونده مسلمان سړی ته په بده سترګه برګ برګ وکتل. همداسې د حجرې سړی سياسي ملا ته، چې پردي ټوپک يې ترغاړه وو، د شک په سترګه وکتل. له همدې مهاله پښتنو کې د بربادۍ، تباهۍ او خونړيو ناورينونه لړۍ پيل شوه، دا لړۍ تر ننه روانه ده. اوس ځيني بې پښتو ملايانو افغان ولس کې د منافقت او شررات جوړولو ماسټري لري.
افغان سياسي مشران د غفلت په خوبونو کې ويده نه راويښيږي. که افغانانو مشران د خپلو شخصي تنظيمي غوښتنو څخه تير شي او د خپل ولس د ژغورنې لپاره د خپلو پلرونو په ځير خپل قومي جوړښتونه او خپلې ملي افغاني ستونزې وپيژني، په خپل افغانيت او اسلاميت باندې پل کيږدي او د افغانانو د ملي يووالي او دايمي سولې لپاره يو بل ته لاسونه سره ورکړي. د افغان ولس د ژغورنې لاره به ډيره ژر لنډه شي .
که نن د حجرې، د جومات او د پوهنتون افغانانو د خپل ويارلي او زوريدلي ولس،د ژغورنې لپاره سره يو موتي نشي د هيواد خپلواکۍ، د ملي يووالي او د ملي سياسي مشرتابه لپاره د يووالي په ټغر سره کيننې. د پښتنو افغانانو ننني قومي مشران، د مذهبي ډلو مشران او افغان سياسي ګوندنو مشران به د لوی خدای (ج) په قهر او غصب کې اخته شي، دوی به د يو بل سرونه سره خوري. مظلوم افغانان به د ځيرلي ګريوان سره، دوی د بې اتفاقي او بې کفايتي له امله د جګړو په اور کې سوځي.
لکه چې ښاغلي نورالبشرنويد د پښتونخوا کلم کې ليکي .
لکه چې لښکر وي او سرخيل نه وي.
لکه چې سنګر وي، خو سنګروال يې نه وي.
لکه چې قام موجود وي، خو وجودي څو څو ځايه تقسم وي.
دا هغه وخت دی، چې پښتون قام خپل يرغمل شوي سياسي قيادت او مشرتوب واپس غواړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۹ . د پښتونولۍ د لښکر او اربکې کانسپټ

د پښتونولۍ په اصولو کې لښکر د پښتنو یو قبایلي خپلواک رضاکاره وسله وال پوځ ته ویل کیږي. د یوې قومې جرګې د پریکړې څخه ورسته، کله چې اربکیان د پښتنو له بیلابیلو ټبرونو او قبیلو څخه د امنیت ساتلو او یا د یوې مهمې ټولګټي ټولنیزې، خیر ښېګڼې چار لپاره د هر کلي څخه په مساوي توګه راوغښتل کیږي، یو قبایلي لښکر تري جوړیږي. لښکر په ځانګړو حالاتو او ځانګړو قضیو کې رابلل کیږي. د بیلګې په ډول د یوې قبیلې په خپل خپلمنځي شخړه کې د دوو قبیلو ترمنځ په جګړه کې او یا د یوې معیني سیمې د امنیت ساتلو لپاره راغوښتل کیږي.
د پښتني لښکر هر غړي د هیواد د خپلواکۍ په جګړه کې یا د ولسي ګټو د ساتلو لپاره او د یو سپیڅلي ولسي ارمان تر سره کولو لپاره تر خپل ملا تېنګ کمربندونه تړي، په خوښه او غورځیو جنګ ته ورځي. اربکیان د پښتون ولس د ننګیالیو، نومیالیو او میړنیو ځوانانو یوه غښتلي خدمتګاره ډله ده، چې یواځې د خپلو مشرانو د جرګو او مرکو پریکړو عملي کوي. اربکیان د پښتني ولسي سیاسي ارادې یو خپلواک لښکر دی. کله چې د دو ټبرونو یا کلیو ترمنځ بدي او یا د ځمکو،غرنو او څړځایونو په اړه شخړه رامنځته شي. د بل قوم یا کلي اربکیان د دوو دښمنو قبیلو ترمنځ په مرچو کې ځای په ځای کیږي او په دښمنو ډلو باندې د سولې او د خبرو اترو غږ کوي. د دوی مخور مشران او سپین ګیري د سیالو ډلو تر منځ د جرګې او مرکې له لارې د سولې او روغې جوړې هڅې پیلوي اربکیان یواځې د پښتني جرګې پریکړې عملي کوي. د اربکیانو راوتل پښتنه ټولنه کې او د پښتنو په ویاړلي تاریخ کې د لمر په څیر یوه جوته ټولمنلي ښکارنده ده.
د پښتونولۍ د اربکي کانسپټ د پښتنو په ځلانده اوږد تاریخ کې ستر مهم رول لوبولي دی .د اربکیان دود او دستور په پښتنو او د پښتنو په سیمو کې خپلې ژورې تاریخي ریښې لري. اربکیانو د پښتني ټولنې غښتلي، ویاړمن او غیرتمن رضا کاره ځوانان دي. پښتانه اربکیان د ویښ ضمیر او پاک وجدان خاوندان دي، دوی د یوې سپیڅلي او ریښتني سیمه ییزه مبارزې څخه خوند اخلي. اربکیان د خپل اربکي دود ستور په چوکاټ د خپل ټبر او خپلومخورو مشرانو پریکړو عملي کوي، دوی د خپلو قومي مشرانو نوم، ننګ او د غیرت هسکې شملې جګې او درنې ساتي.
اربکیان د خپلو وسلو سره د پښتني ننګ، غیرت او میړانې ډګر ته په خوښه ورځي. اربکیان د خپل خدمت په بدل کې له چا نه هجوره او یا تنخوا نه غواړي، بلکې دوی د خپلې د خیرښېګڼې دندې اجر له خپل خالقه غواړي. اربکیانو ته ورسپارلي شوي ټولنیزه چارې خپل وجداني مسوولیت ګڼي. دوی د یو پاک سپیڅلي پښتني احساس په چوکاټ کې خپله دنده د یو خپلواک خدایي خدمتګار په څیر تر سره کوي. د ورسپارلې شوې دندې تر سره کولو ورسته د اربکیانو لښکر ړنګیږي او هر څوک خپل ورځني ژوند چارو پسې روانیږي.
پښتانه اوس پوهیدلي او پوهیږي، چې دښمن نه یواځې د دوی جسمي تباهۍ او بربادۍ لپاره را دانګلي، بلکې د غازي افغانانو غرو، شهامت، د افغانانو ملي نوامیسو، اتلولي اصلي منځ زړي او جوهر له منځه وړلو لپاره هم پټ پلانونه جوړ کړي دي. دښمن غواړي لومړۍ د پښتنو په سپیڅلي ملي ارزښتونو او اسلامي عقیدتي ارزښتونو او په ولس کې منلې شویو سنتو باندې ملنډې ووهي. د پښتنو دښمنان د مسلمان په جامه کې نن دومره سپین سترګي شوي دي، چې د پښتنو په مخ کې د دوی ملي احساس، اسلامي دودنه او پښتني لرغوني ارزښتونه، د پښتنو د خپلواکۍ ویاړلي غازیان او د پښتنو ملي اتلان مسخره او سپکوي.

اربکیان که سیمه ییزه پولیس ؟

د بیلګې په ډول د خواشینۍ ځای دی او د تعجب وړ خبره ده، چې د څو لسیزو راهیسې ځینې پوه رون اندي پښتانه سیاستوال، افغان خبریالان د پښتونولي د اربکي دود او د جنګي جنایتکارو اجیرو ملیشو او د سیمه ییزه پولیسو د مفاهیمو ترمنځ سم توپیر نشي کولي.
ملیشي د پیسو په بدل کې هر ډول جنګي جنایتونه تر سره کړي او کوي. افغاني جنګسالاران د ګاوندي هیوادو لخوا د افغان ولس د بربادي لپاره ګومارل شوي، پیژندل شوي خلک دي. ملیشي انارشي، خودسري، ملک الطوافي رامنځته کوي .کلي په کلي او سیمه په سیمه کې جنګ او جګړې زیږوي.
ځینې افغان سیاسي چارواکي، سیاسي شننونکي، افغان خبریالان په پوه یا ناپوهي کې د پښتنو د دښمنانو په څیر ملیشي، محلي یا سیمه ییزه پولیس د پښتنو د اربکیانو په نومه یاده وي. سیمه ییزه پولیس د حکومت په اداري تشکیلاتو کې ثبت شوي دي. دوی د دولت څخه وسلې، پیسې، جنګي تجهزات، مهمات او وسایل تر لاسه کوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغان حکومت وسله وال مخالفین پښتانه طالبان هم په ناپوهی سره د پښتنو د ملي ارزښتنو سره ستر ظلم او ستره جفا کوي. دوی د پښتنو د ځوانانو د خپلواکۍ له احساساتو څخه ناوړه استفادې کوي .دوی په خپلو رسنیو کې حکومتي مليشي او سیمه ییزه پولیس د پښتني دودنو خلاف د اربکیانو په نامه یادوي.
لوی افغانستان کې د شپیتو، اوویا کلونو راهیسي د انګریزانو، پنجابیانو، روسانو او امریکایانو د خپلو شومو پلانو عملي کولو او استعماري موخو لپاره جنګي قبایلي مليشي، دفاع خودي او د سیمه ییز پولیسو په نومونو وسله والې مرموزې، مزدورې ډلې رامنځته کړي دي. د پنجاب پوځیانو د خپلو بدرنګو تورو استعماري موخو لپاره د ډیورنډ کرښې ته ورځیرمه په قبایلي سیمو کې د پښتنو قبایلو څخه پښتون ضد ځواکونه او پوځي مليشي رامنځته کړي.
روسانو د خپل یرغل پر مهال هم د خپلو استعماري موخو لپاره د دفاعي خودي او ګلم جم په نامه جنګي مليشي را منځته کړي.
د پنجاب پوځیانو د پښتنو په قبایلي سیمو کې مليشي ځواک د خپلو استعماري انګریزي ډوله ګټو لپاره جوړې کړي دی. د پنجاب او اسلام اباد واکمنانو سترګې د پښتنو له اربکانو څخه سختې سیځي. دوی پوهیږي، چې اربکیان د افغان ولس د بیړني غبرګون یو دفاعي خپلواک ځواک دی، دوی غواړي د پښتنو په دغه د پښتني لرغوني سپیڅلي ارزښت باندې هم ملندي ووهي. یرغلګر غواړي پښتانه د چل ول، د زور او زر له لارې په خپله قبضه کې وساتي.
په دې ورستي کالونو کې کله چې د امریکایي ځواکونو ستر قوماندان جنرال ډیویډ پیټریوس د نا ټو عمومي قوماندان په توګه وګومارل شو. ده په افغانستان کې د سیمه ییزو پولیسو یوه طرحه جوړه کړه، د دې لپاره چې دغه ځواک افغاني ځواک وښودل شي، د اربکیانو په نوم ونوماول شول. دا سیمه ییزه پولیس هغه قومي اربکیان نه دي، کوم چې د پښتونولۍ د سپیڅلي دود سره سم او د پښتي د ټولنې د اصولو پر بنسټ د یوې قومي جرګې لخوا د یوې ځانګړې دندې تر سره کولو لپاره راغوښتل کیږي. په افغانستان کې سیمه ییزه پولیس د خپلې سیمې امنیت نشي ساتلې او خپله خپلواکي هم نلري .
سیمه ییزه پولیس د اربکیانو به نامه په کلیوالو سیمو کې سیمه ییزې دښمنۍ او د خلکو تر منځ اختلافات زیږولي دي. افغاني ټولنې ته په کتو سره له کله نه چې د سیمه ییزو پولیسو فعالیت پیل شوي، دغه ځواک د قومي او سیمه ییزو شخړو او لانجو لامل شوي دی او د قومي او سیمه ییزو اوږدو دښمنیو یو بل اور د پښتنو په سیموکې بل کړي دی. له همدې امله د دښمن لخوا په افغاني ټولنه کې د اوږدو خونړیو بدیو او جنګ جګړو بنسټ ایښودل شوي دی.
دغه استعماري طرحې یا پلانونو د پښتنو افغانانو ترمنځ د جنګ جګړو اوږدولو سره مرسته کړي.
سیمه ییزه پولیس سیمه ییزه ولسي وګړي تر پوزې راوستي دي، دغو سیمه ییزه پولیسو د اربکیانو **په نوم** د ولسي وګړو ژوند دومره تریخ کړی دی، چې دوی د خپلې سیمو او کورونو پرېښودلو ته اړ شوي دي.
په ځینو افغاني رسنیو کې لیکل کیږي. ،،اربکیان د لویو لارو په اوږدو کې ولسي خلکو ته د بې عزتیو اړولو سربېره له خلکو پیسې هم اخلي،،.
هیله ده، هغه افغانان رونړ اندي، چې د پښتني خویونو، دودونو، رواجونو او ارزښتونو ته د زړه له کومې درنښت لري او د بهرنیو پردیو تمدنونو او د پنجابي، ایراني، روسي، امریکایي او انګریزي کولتورنو تر اغیز لاندې نه وي لاغلي او هغه پښتانه افغانان، چې د ننګ ، غیرت، د شرم او حیا جامې نه وي ځیرلي، د افغان او افغانیت او د اسلام او اسلامیت په سیور کې د افراط او تفریط او قومي تعصب څخه ځان ژغورلی بولي او د خپل سپیڅلي دین اسلام په سیوري کې د منځلاري امت احساس په زړه کې لري.
هغه پښتانه افغانان، چې خپل پښتانه وړونه د هر ډول بدمرغي او ناخولو څخه په خپل وس او توان سره ساتل غواړي، یو ځلي بیا تمه کیږي، چې نور خپله ګټه د خپل ولس په ګټو کې ولټوي، که غواړو د اوسنیو حالاتو او ناورینونو څخه ځانونه وژغورو، مجبوریو د یو واحد ملت په توګه را څرګند شو او د خپل ملي هویت، د خپلو ملي نوامیسو، د خپل اصیل افغاني ملي کولتور او پښتني ارزښتونو څخه په ویښه ساتنه او پالنه وکړو.
خپلواک اربکیان د افغان ولس د ملي نوامیسو او د افغان هیواد څخه دفاع کړي او کوي. اربکیان د افغان ټولنه کې د افغان ولس د عزت، غیرت، میړاني او د خپلواکۍ ساتلو یو خپلواک بیړنۍ د غبرګون ځواک دی. یرغلګر او استعماري پردي ځواکونه تل د افغان ولس د خود جوشه، خپلواک ولسي پاڅونونو او بیړني دفاعي غبرګونونو څخه ویره لري. د افغانانو په تاریخ کې انګریزان، پنجابیان، ایرانیان،روسان او امریکایان د پښتنو له دې ډول خپلواک غبرګونیزه ځواک څخه ځښتي ډیرې بدې خاطرې لري. یرغلګرو تل هڅه کړي، چې د افغان باتوره ولس ملي ارزښتونه، ملي شخصیتونه او ملي هویت بې ارزښته او مسخره کړي. بهرني یرغلګر پوهیږي، چې د پښتنو د اربکیانو د لښکرو مشران سردار ایوب خان، فقیر اپیې، وزیراکبرخان، عجب خان اپریدي، میربچه خان لوګري،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

محمدجان خان وردک، غازي ببرک خان ځدرانِ او سلګونه نور بي نامه بي نشانه غازيان وو. افغان غازيانو تل د خپل هيواد خپلواکي، هيوادپالنې او د افغان ولس د عزت ساتلو لپاره د اربکي په کانسپټ کې خپل سرونه قربانيو ته راپوته کړي دي .
پښتانه افغانان د نړۍ يواځني خلک دي، چې د يرغلګرو په وړاندې د همدې اربکي کانسپټ په چوکاټ کې دريدلي دي. پښتونولي په خپله د خپلواکۍ، ريښتينولۍ او د پښتنو د ژغورلو يوه لار ده، که پښتانه خپل افغانيت خپل کړي، بلې پردي مفکوري، ايډيالوجي او بل پردي ځواک ته هيڅ اړتيا نه ليدل کيږي .
د افغانانو دښمنان هڅه کوي، چې د اسلاميت، افغانيت او دافغان ولس د پت اوننګ لرغوني ارزښتونو ورک کړي، په ټولنه کې افغاني ارزښتونه ملي اتلان مسخره او سپک کړي. تر څو د افغانانو څخه د ملي نوميسو، ملي احساس، ملي هويت، د خپل ځان دفاع مفکوره او حق واخيستل شي. د انګريزان، روسان، امريکايان، پنجابان او د ايران جاسوسانو او مزدور کړيو او رسنيو څخه اصلاً ګيله په کار نه ده، دوی قصداً د اربکيانو په مانا او د پښتونولي په کوډکسونو باندې ځانونه نه پوهول غواړي. د پنجاب واکدارن لکه د ايران اخوندان غواړي او هڅه کوي، د افغانانو سنتي او دوديزه جوړښتونه ګډوډه کړي، افغان کولتور، د افغان ژبې ترمينالوجي او د افغانانو ملي او اسلامي ارزښتونه لمنځه يوسي.

۱۰ . د پښتونولۍ په قانونغونډه کې د تربور او تربورګلوي کانسپټ

د پښتونولۍ د تربګنې کوډکس هر پښتون دې ته هڅوي، چې د پښتنو په کليوالي چاپېريال کې د خپل تربور سره په ګډه همغږي او سالمې سيالۍ کې سوليز ګډ ژوند وکړي او د تر بورګلوي دوواړه غاړې يوې مدنې ټولنې جوړولو ته رابولي. د تربورګلوي په کانسپټ کې يو پښتون بايد د خپل تربور سره د سيمې په هره چار کې او د کلي په هره ستونزه او راکړه ورکړکې ګډ ودريږي. د پښتونولي د تربګنې کوډکس په خپله خپل ځانته يو نورم يا يونرخ لري، چې څوک تربور دی او څوک تربور نه دی. تر بور د قبيلې يو مخور غړی دی. له تربور سره په کليوالي چاپېريال کې ځښت ډير پام کيږي. کلي يو سيمه ييز اقتصادي ټولنيز ګډ واحد دی، په کليوالي چپريال کې کليوال د خيرښېګڼې په چارو کې او د کلي د پرمختګ په چارو کې تربوران له يو بل سره په ګډه کار کوي.
پښتانه په کليوالي چاپېريال کې د هر تربو سره په ډير احتياط، درنښت او متقابل احترام کې ژوند کوي. پښتانه په مجلسونو کې په ډګر او فخر سره وايي، دا زمور تربوران دي. پښتانه په کليوالي چاپېريال کې د خپلو تربورانو سره په ګډه سوليز ژوند کوي .د پښتنو د تربګنې کوډکسونه د اسلام د سپيڅلي دين سره سميږي يا د اسلامي شريعت تر حکوم لاندې تل اصلاح او کنټرول کيږي.
پښتونولي کې تربور اکثراً د تره زوی يا د ورور زوی ته ويل کيږي. تربورولي په مثبته مانا د ورو زامنو ته هم ويل کيږي، پښتنه ټولنه کې د تره زامن په خپلو کې مساوي او برابرحقونه لري او له يوبل سره په سوله کې ګډ ژوند کوي. پښتنه ټولنه کې تر بور او تربورګلوي اکثراً د سيالۍ او دښمنۍ په مانا هم تعبيرکيږي. تربور که ښه سړی وي، د تره زوی دی، که بد سړی وي د خره زوی دی. د پښتو ژبې متل دی، چې وايي، د تره زوي د خره زوي وي .يو پښتون د خپل تربور سره تر هغې چې د دوی ترمنځ کومه لانجه نه وي را منځته شوي، په ډير درنښت چلند کوي. د پښتنو په ټولنه کې تربور ته په منفي مانا سيال او ان د دښمن تر پولې ورته کټل کيږي. په پښتانه ټولنه کې د دوستي او د دښمني پولې جوتې دي. د دوستي او دښمني د پولو ترمنځ د تربورولي نرۍ پوله پروته ده. دا يو پښتون پوري اړه لري، چې خپل تربور خپلوي يا دښمنوي .

د پښتنو لوی ننګيالی شاعر حمزه بابا د پښتنو د تربګتي په اړه ليکي :
رقيبه راشه چې ترمنځه تربګنې کړو لرې، هغه ظالم خو تا په ما او ما په تا سوځوي

يا يو بل پښتون شاعر ليکي:
څه ساده دئ دا پښتون چې تربګنې کا، زه د زړه وينې څښم دئ دښمنې کا
خلکو لاندې تر پښو ستوري سپوږمی کړل، دئ لا دوو ميرو ته ناست دئ اوشپې کا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۱۱ . د پښتونولۍ د تیرۍ کانسپټ

د پښتونولي په حقوقي اصطلاګانو کې یا کانسپټونو کې تیره د روغې کانۍ د سولې یوې ټاکل شوې مودې یا معیاد لپاره استعمالیږي. کله چې د دوو کورنیو، دوو ډلو یا دوو قبیلو ترمنځ دښمني رامنځ ته شي او د بدو یا متخاصمو خواوو ترمنځ جګړه پیل شي. د شخړې مسله یا دعوا جرګې ته وړاندې کیږي، جرګه د یو ټاکلې مودې لپاره تیره ږدي. د ساري په ډول رابللې شوې جرګه تر دوه ورځې یا یوه میاشت پورې د اوربند موده ټاکي، د دې مودې په ترڅ کې هیڅ څوک حق یا رښته نه لري، چې یوه خوا پر بلې خوا باندې تیري وکړي. تر څو د نورو دښمني تیریو او نورو جګړو مخه نیول شوې وي. ښکېلې خواوې یا دوواړه قبیلې د تیرۍ د ایښودلو مقرراتو مني او د تړې نرخ ته په درنه سترګه ګوري، د قبیلې هر یوغړی دا نرخ پر خپل ځان پلي کوي. تیره د یوې جرګې د فیصلې څخه ورسته ایښودل کیږي. د جرګې پریکړه خامخا عملي کیږي، هیڅ څوک نشي کولایې د جرګې له پریکړو څخه سرغړونه وکړي .که څوک تیره ونه منې، ده د پښتونولۍ په یو نرخ یا نورم باندې تیري کړي دی. تیریکوونکي ته بیا د جرګې له خوا سزا هم ورکول کیږي. په بله وینا تیره یو قومي نرخ یا نورم دی. تیره یوه خبرتیا ده، دغه خبر یا خبرتیا مقابل لوري ته ور پیژندل کیږي .

د دعوا ګیرو ډلو ترمنځ د احتمالي شخړو او د جګړو د مخنوي لپاره یوه کرښه ایستل کیږي، دا کرښه په نامه د تیرۍ یادیږي. د جرګې پریکړې د تیرۍ کرښه په ځیر پیژندل کیږي او هیڅ یوې ډلې ته اجازه نشته، چې د پولې یا کرښې څخه واوړي او د تیرې نرخ مات کړي، پښتنو کې ویل کیږي، چې په دغه دعوا کې تیره ایښودل شوې ده. تیره د فیصلې او مقرراتو نوم دی. پښتانه وایي، راځئ د پښتونولي د نرخ سره سم تیره کیږدو، چې تردې ورسته به هیڅ څوک داسې نه کوي.

۱۲ . د پښتونولۍ د بدرګې کانسپټ

بدرګه کوونکي هغې چا ته یل کیږي. چې دی د قبیلې یوغړي یا د یوې ډلې د بدرګې لپاره د بدرګې په دنده ګمارل کیږي. د بیلګې په توګه، دووې کورنۍ له یو بل سره دښمني لري او له یوې کورنۍ څخه یو سړی زیاتره وژل شوي دی او د بلې کورنۍ څخه یو مړی د قصاص په ډول پوروړي دی، کله چې دوینې پوروړي د بلې کورنۍ د کلي یا سیمې څخه تیریږي، طبعي خبره ده چې په ده باندې وسله وال برید کیږي او وژل کیږي. دی د ځان ژغورلو لپاره مجبور دی، چې د بل کلي یا کلا څخه یو سړی د بدرګې لپاره له ځانه سره واخلي، تر څو دی د وینې پور اخیستونکي د کلا یا کلي څخه په خوندي توګه تیر شي. غچ اخیستونکي د بدرګه کوونکي سړی په درنښت د وینې په پوروړي باندې ترهغه برید نه کوي، تر څو چې خپل مدعي یواځې یا ګوښي نه وي لیدلي. په بدرګه کوونکي سړی باندې برید یوې بلې قومي دښمنۍ ته لاره خلاصوي

۱۳ . د پښتونولۍ د همسایه یا ګاونډي کانسپټ

د پښتونولي په دود او دستور کې همسایه هغې ډلې ته ویل کیږي، چې خوندیتوب او امن ته اړتیا ولري. همسایګان د یو ځواکمن مخور قومي مشر په کلي کې یا د یو قومي خان کور ترڅنګ اړولي وي. همسایه په اصل کې هغه خلک دي، چې په خټه پښتانه نه دي، خو د پښتنو سره په ګاونډ کې ګډ کار او ژوند کوي. د پښتونولي په اصولو کې په همسایه باندې هر ډول برید داسې انګیرل کیږي لکه چې پر ساتونکي یا امن ورکونکي سړی باندې برید تر سره شوي وي.

۱۴ . د پښتونولي د پګړي یا حشر کانسپټ

د پښتونولي په کانسپټ کې پګړه د افغاني مدني ټولنې یو زوړ او لرغوني دود دی. پګړه په ګډه یا په شریکه مانا استعمالیږي. سبا ته پګړه ده، یعني په شریکه کارکول. په کلیوالي چاپېریال کې یوه ټولنیزه ستونزه په ګډه سره حل کولو ته وایي. د پګړې له لارې ډیرې د خیر ښېګڼې ټولنیزه چارې په ګډه تر سره شوي دي او کیږي. په یوه پګړه کې د کلي ټولو غړو ته خبر ورکول کیږي، چې په دغه ورځ پګړه ده. لکه د لارو جوړول، ویالې پاکول، کاریزنوکیندل، د غرنو څخه لرګي راوړل، د غنمو لو یا ربیل، د شولو کر د پګړو له لارې تر سره کیږي او یا د خټو کلا وهول هم د پګړې له لارې تر سره کیږي، کله چې د کلیوالو ویالې بندې شي سیل او یا توی وړی وي. کله چې د کلي عمومي لار خرابه شي، کلیوال په پګړه راوځي.

یا د طبیعي پېښو رامنځته کیدل لکه زلزله، سېل یا توی راوتلو له کبله پګړه یا اشر تر سره کیږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې د کلي نايي په دول وهلو پيل وکړي، کليوال په خوښه د يوې چرې يا کولنګ سره را تولېږي او را منځته شوي زيان په ګډه بيرته رغوي. د پګړي غږ د هغو خلکو لپاره هم کيداى شي، چې دوى نشي کولې يو کار په خپل يواځېتوب، بې وسۍ او يا د نوروستونزو له مله تر سره کړي. د پګړي له لارې د کليوالو ترمنځ مينه، يووالي او د ولسي پيوستون اړيکي ټينګيږي. پښتانه هيڅکله د چا ښيګړه له ياده نه کاږي.

.

۱۵ . د پښتونولۍ د لونګي، پټکي، پګړۍ، بګړۍ او د شملې کانسپټ

پښتني رواياتو او اصولو کې د پګړۍ، لونګۍ يا دستار هسکه شمله د پښتنو د درناوي، پت ، عزت او ويار نښه نښانه پېژندل شوي ده. پګړۍ په سرکول د سنت يوه طريقه هم ده .رسول الله مبارک به تل لونګي په سر وه، پښتانه د پښتني ټولني له دود او دستور سره سم د لرغونو زمانو څخه پټکى په سر کوي. يعني پښتانه پرته له اسلامي سنت د پښتني ارزښتونو او دودنو سره سم پټکي په سر کوي.

کله چې پښتنه ټولنه کې د قوم يو مخور مشر ټاکل کيږي او يا يو مخور سړى د ښه او نيک عمل د تر سره کولو څخه ورسته نازول کيږي، ده ته د مشر توب يا سړيتوب د قدر او عزت له مخې پټکى ورټړل کيږي .

شمله د افغان ننګ، ناموس او عزت ساتلو مانا لري. شمله د نارينه توره او غيرت دى، شمله زمور د پلرونو او نيکونو د غيرت، شهامت او ويارونو ګډ ميراث دى، نن يو ريښتني ننګيالى پښتون مجبور دى، د خپلو مشرانو او بابا ګانو په ننګ او اتلولي باندې پښتني غيرت وکړي. يو عاقل اصيل پښتون هيڅ وخت د جاهليت يا د جاهلانو په شان ليواني بې ځايه ننګ او غيرت نه کوي.

د افغان د ننګ او غيرت شمله د افغانانو په دولتي تاريخ کې د افغانانو د ټولو ميړنيو پاچاهانو په سره نيغه ولاړه ليدل کيږي. د لونګى شمله په پښتني ټولنه کې معنوى ارزښت لري. بې ننګه سړى په پښتنو کې هيڅ ارزښت نلري لونګى د پښتونولۍ د ارزښتونو يوه ځانګړي ځانګړتيا ده. پګړۍ يا لونګى يوه سمبوليکه مانا لري. پټکي د نارينتوب نښه ده، چې د يو پښتون ايډيالي شخصيت او د پښتونولي ټول اوصفات، ننګ، غيرت، ميړانه، او د اتلولي ټوله ټولګه افاده کوي.

له همدې امله په افغانستان کې افغانان له شماله تر سويله له ختيځه تر لوديديځه ټول افغانان لکه افغان تاجکان، افغان اوزبکان، افغان ترکمنان، افغان عربان، افغان هزاره ګان لونګي په سروي.

پښتانه لونګى خپلو ولسي مشرانو ته ور په سر کوي. لونګى پښتنو ته د پلرونو او نيکونو د ننګ، غيرت او عزت شمله بريښي. ټيکړۍ د افغاني ښځې د عزت او پت جامه بلل کيږي

د پټکي يا لونګي ارزښت او يا د درنوالي مانا په شمله کې نغښتي ده. کله چې قومي خان ته او يا د قبيلې مخور مشر د پښتونولي په اصولو کې د پښتون ولس د ارمانو په لاره کې دريدلى وي، دى د خپل قام د شملې په نامه نومول کيږي. لونګى د افغانانو د قدر، عزت، ستاينې او ويار يو سمبوليک دود دى، کله چې پښتنه ټولنه کې د پښتنو د سياسي مشرتابه يا د قبيلې د سپين ګيرو يا قام د مشرانو له خوا چا ته پګړي د ډالۍ په توګه ور په سر کړل شي، ده ته هممهاله يو لړ نور ټولنيز، سياسي مسوولېتونه ور په غاړه کيږي. پګړۍ يو عزتمن، غرتمن سړى ته يا د قبيلې يو مخور پوه ځوان مشر ته ور په سر کيږي، دى بايد د خپل ولس او د خپلو خلکو د مشرۍ جوګه وي.

ښه بيلګه يې د پښتنو او د پښتونولي په اصولو کې ستر مخګښ ستر ټولواک، ستر افغان احمدشاه بابا ته د شير سرخ د جرګې د غړو لخوا د ټولو افغانانو د مشرۍ پګړۍ ور په سر کړل شوه.

د پښتنو په سيمو کې د قران کريم د يادولو او د ديني علومو د زده کړو د سند ترلاسه کولو په ويار د فراغت پګړۍ ترلو غوندې جوړيږي. شمله يا پګړۍ د پښتنو د ځوانانو د ښايست او ويار نښه نښانه ده.

يو بې غيرته پښتون د خپل قام شمله نړوي. يو باعزته اصيل شمله ور پښتون افغان خپله پلرنۍ شمله نيغه ساتي او خپل قوم ته ننګ، نيک نوم او نشان راوړي.

پښتنه ټولنه کې نن پښتانه د لونګۍ په سرولو دود ورو ورو ويره وي.

نن بې غيرته دښمن په خپله بې غيرته لونګى کې چاوديدونکې توکې ځاى پرځاى کوي او د روغبړ او ستړي مشي پرمهال يو بې ګنا ه ناخبره سړى په بمي لونګى کې الوځوال کيږي. يو ننګيالى او غرتمن پښتون ته هيڅ د منلو وړ نه ده، چې دى خپل دښمن د لمنځه وړلو لپاره د لونګيو د بمي برید څخه کار واخلي.

دا هم د تعجب وړ خبر ده، چې نن هر سړى او ناسړى ته لونګۍ ور په سرکيږي. د سړى ټولنيزو اخلاقو او صفاتو ته هيڅ نه کتل کيږي. او لونګى ور په سرکيږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خوشال خان بابا په خپله دستار نامه کې لیکي .
چې دستار تړیې هزار دي، د ستار سړي په شمار دي
هسکه شمله دي ټیټه مه شه، د پښتنو په شمله ویاړي تاریخونه .
که مې پښتو درسره نه کړه، بیا به پګړۍ د سر څنګه تاوومه
د شملو وطن ته راشه، چې شملې درته په سر کړو، ته رڼا د ستور راوړه مور به ویني د زړه درکړو.

۱۶ . د پښتونولۍ د خان او قومي مشر کانسپټ

پښتنه ټولنه کې په دودیزه توګه خان یو میراثي نوم او لقب دی. خو سربیره پردې ځینې د اغیزې او شتمنۍ خاوندان کولې شي، دغه نوم ځانته د پښتونولي په اصولو کې نوی وګټي. خان د خپل ټبر یو لومړنۍ سړی ګڼل کیږي، په دې مانا پښتنه ټولنې کې د پښتنې ټولنې ټول غړي مساوي حقوق او ګډ مسوولیتونه لري او خان د دوی په منځ کې لومړۍ سړی دی. د خان سیاسي او ټولنیز مشروعیت په دې کې نغښتي دی، چې دی باید خپل مسوولیت د خپلو خلکو په وړاندې د پښتونولۍ په اصولو کې تر سره کړي. خان کولې شي د خپل ټبر د اړتیاو په پوره کولو کې پر دولتۍ ادارو خپل رسوخ او اغیز وشیندي. په بله وینا خان په خپله ټولنه کې یو اغیزمن، ځواکمن منلي سیاسي شخصیت دی.
په دې ورستیو ځلور لسیزو کې د خان نوم او خان سیاسي وضعیت ته ستر زیانونه اوښتوټي دي. د پښتنو د خان سیستم د بیرته راژوندي کولو لپاره باید نوی خان د وفات شوي خان له کورنۍ څخه وټاکل شي. دی باید په کافي اندازه اقتصادي زیرمې ولري او په ټولو کې لومړۍ دی باید د پښتنو په ایډیالي انځور او دودنو پسې روان ووسي. په دې مانا دی باید یو غیرتمن او ویاړمن سړی وي. خان باید له ناندریو پرته د پښتونولي په ارزښتونو کې او د پښتنو په قبایلي کوډکسونو کې ژوند وکړي. پښتنه ټولنه کې چې هر څوک شتمن وي خان کیدي نشي، خان باید خپله شتمني او خپله پوه، خپله تجربه او خپله میرانه د خپلو ولس په ګټه کې وکاروي .
پښتنو په خپل تاریخ کې پرته له دولتي ځواکه د پښتونولي په چوکاټ کې د مشرانو، خانانو، جرګو، اربکېانو او د پښتنو د لښکرو له لارې خپل امنیت او عزت په خپله خوندي ساتلي دی.
د پښتنو د میرنتوب د ایډیالونو په انځور کې نه یواځې توره بلکې د عقلانیت یا د عقل شعوري عمل، وړتیا او ټولنیز مسوولیتونه هم شتون لري. د یو پښتون مشر په خپل شخصیت کې توره، عقل، شعوري وړتیا او ټولنیزو مسوولیتونه عملاً یو ځای په ګډه عمل کوي یا د سړیتوب همدغه ارزښتناکه ارزښتونه په ده کې هم مهاله یو ځای کیږي. پښتني ټولنه کې کله چې یو پښتون له ویاړونو او اتلولۍ ډک عملونه تر سره کړي، ده د خان نوم یا د خانې لقب ګټلو مهم رکنونه پر ځای کړي دي. له دې ورسته له ده نه په افغاني ټولنه کې یو میرنۍ خان سړي جوړیدي شي. دغه میرنۍ خان سړی باید د یوې ستړي او ژوړې پوهې خاوند هم وي، دی باید شعوري وړتیا ولري، تر څو دی د شخړو پر مهال سمې پریکړې او فیصلې وکړي. دی باید یو تکړه ویوونکی واوسي. دی باید د پښتونولي د منلي شویو نورمونو او ارزښتونو څخه پالنه او ساتنه وکړي. دی باید په میلمه پالنه کې ستر زړه او خلاص لاس ولري. دی باید اقتصادي بریالیتوبونه ولري. دی باید دې ته چمتو واوسي، تر څو په خپلو بریاوو کې خپلو پلویانو ته، خپلو میلمنو ته، د پناه غوښتونکو او د خوندي ساتنې مستحقو کسانو ته خپله برخه ورکړي .
د خان خبره او د خان مشرتوب د سیمې په ټولو غوندو، مرکو، جرګو او د خیر ښېګڼې په چارو کې مهم رول، ارزښت او خپل ځانګړي درونډ وزن لري. خلک د خان خبرې اوري او مني، د خان واک او قدرت د ده د پلویانو په شمیر کې مالومیږي، دا هغه خلک دي چې د ده په حجره کې تل کته پورته کیږي. دغه خلک بیا له خان سره د شخړو او دعوو د حلولو په بهیر کې درییږي. خان په دوعوا کې د دې لپاره راغوښتل کیږي، چې شخړې ته نور د پای ټکی کیږدي، کلیوال خپل خان د خپل استازي په نامه هر چیرې لیږي. خلک د خان څخه د عدالت، برابرۍ او مساوات غوښتونونکي دي، کله چې خان دغه وړتیاووي له لاسه ورکړي، دی بیا د خان نوم یا لقب هم له لاسه ورکوي.
د افغانستان د جګړو په بهیر کې خان د جنګي قوماندان له خوا په ډیرو برخو کې شاتګ ته مجبوره کړلي شوي دی، ځکه په افغاني ټولنه کې دفعتاً نویو مشرانو ته اړتیا پیدا شوه، د افغان جهاد په بهیر کې مهمه خبر دا وه، چې د پاکستان، ایران او د ګردې نړۍ څخه راروانې وسلو، پیسو او خوراکي توکي ته لاره وموندل شي. د سیمې قوماندانان مجبور شول، چې د مقاومت او جهادي تنظیمونو غړي شي.تر څو د غړیتوب له لارې سلاح او مهمات تر لاسه کړي. ځینو دودیزه خانانو داسي نشو کولې، چې د هر نامالوم سړی او هر لوري څخه پیسې او وسلې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترلاسه کړي. ځيني خانان مهاجرت کولو ته مجبور کړل شول. پښتنه ټولنه کي د خانانو تشه او د دوی موقف د دې لامل شو، چې د خانانو واک د نوي را توکيدلي جهادي قوماندانو نسل ته وسپارلي شي.

۱۷ . پښتونولي او پښتنه ټولنه کې ناوړه منفي دودونه او رواجونه

نورمونه او ارزښتونه د ګډ ژوند او انساني کړه وړه سره خورا مهمي اړيکي لري. کله چې په ټولنه کې نورم يا نرخ ماتوونکي ته سزا نه ورکول کيږي. د ټولني په وګړو کې د نورمونه او ارزښتونو بدلون ورو ورو رامنځ ته کيږي. يوه ټولنه هغه مهال خپل شتون ثابتولي شي، چې د نرخ ماتوونکي سړی ټول کړه وړه رابرسيره کړل شي. په هره ټولنه کې نورمونه شتون لري. دغه نورمونه د ټولني د وګړولپاره د وظايفو، مسوولیستونو، اجازاتونو او ممانعتونو يو چوکاټ جوړوي.

هره ټولنه د ډيرو هراړخيزو منفي او مثبتو اړيکو او دودنو يوه ټولګه ده. دا د ټولني د وګړو پوري اړه لري، چې په ټولنه کې کوم ارزښتونه، جوړښتونه او نورمونه مراعاتوي او کوم نه مراعاتوي. د نړۍ په هره ټولنه کې منفي دودنه شتون لري. په کومو ټولنو کې چې ښه رواجونه، ښه دودنه، ښې کړنې او ښې اړيکې شتون ولري، هلته خامخا ناوړه او منفي دودونه هم شتون لري. پښتنه ټولنه هم د نړۍ يوه ستره ورسته پاتې ستنې او پرعنعنوي عقايد ولاړه ټولنه ده، چې د سمون، روزنې، لارښوونې او سمبالښت لپاره ډير لږ کار تر سره شوي.

يوه ټولنه هغه مهال يوه بريالي ټولنه ګڼل کيږي، چې په کې د وګړو فکرونه، اخلاق او استعدادونه په ښه توګه وروزل شي، ټولنه د مثبت پرمختګ په لور بدلون منونکي اوسي، ټولنه خپله خپلواکي ولري او د ټولنې خلک مسوولیت منلو ته چمتو اووسي.

د پښتنې ټولنې غوڅ اکثريت ښځې او نارينه په کلیو او باندو کې يو ډير خوارو زار ستړي ستومانه او له کړونو ډک ژوند لري، دوی د نوي نړۍ له پرمختګونو څخه ليرې پاتې شوي دي، له خپلو مدني حقونو څخه ناخبره دي. پښتنې ټولنه کې خلک له خپلو اسلامي حقوقو څخه هم ناخبره دي. پښتنه ټولنه کې تر اوسه د اسلام د سپيڅلي دين د قوانينونو په شتون کې او د پښتونولي د ارزښتونو په شتون کې له اوږدې مودې راهيسې ناوړه او منفي دودونه په خپل قوت سره په کې پاتې شوي دي.

پښتنه ټولنه د ناسمو دودونو او بدو رواجونو څخه ځښته ډيره کړيږي. د بيلګې په توګه په ځينوسيمو کې د نجونو د لوړ ولور ناوړه دود، په بدو کې د ښځو ورکول دود او د ميراث له حقه ښځې محروميدل، داسې نور منفي دودونه، ناسمې ښکارندې، غير شريعي کړنې د اسلامي او د پښتونولي له اصولو سره هيڅ ټرو نلري.

پښتنه ټولنه کې قومي مشرانو او ديني عالمانو د دې ناوړو دودنو، غير انساني، غيرشرعي او ټولنيزه ستونزې په وړاندې تل غوندې، ويناګاني او پريکړې د يو قومي ټرون په څير کړي دي. د سر غړونې په صورت کې سرغړوونکي سړی يا کورنۍ ته د ناغه سزا هم ورکول کيږي. سربيره پردې سرغړوونکي په پښتنه ټولنه کې په سپکه سترګه کتل کيږي او د يو بې نرخه سړی په څير پيژندل کيږي .

پښتنې ټولنه کې د ناوړه منفي دودنو او راوجونو سره زياتره ښځينه جنسيت مخامخ دی. پښتنه ټولنه کې غير انساني او غير ديني دودونه له پخوا نه شتون لري، له همدې امله پښتانه له ډيرو کولتوري محدوديتونو او ناوړه دودنو سره لاس او ګيروان دي. دغه ټولنيزې ستونزې ډيرې ژورې ريښې لري .

پښتنه ټولنه د يوې نيمې پيړۍ راهيسې د انګريزي او روسي امپراتوري د سياسي، پوځي سيالیو او امپریالستي سياستونو له امله قصداً په اندوا کې ستاتل شوي ده. له همدې امله د ښځينه او نارينه پرمخ د زده کړې دړې ټرلې شوي دي. پښتنه ټولنه کې د نالوستوخلکو سلنه ډيره جګه ده. پښتنه ټولنه د پوهې له نشتوالي سره مخامخ ده. که په ټولنه کې ټول خلک په موازي توګه عامه پوهاوي او ساينسي پوهنې ته لاسرسي ومومي. تر ډيره بريده به د ښځو او نارينو ستونزې حل شي، په ټولنه کې به د تاوتريخوالي کچې کمه شي او د منفي دودونو مخنيوي به وشي.

پښتنه ټولنه کې پښتنو او پښتونولي دې لاندو ارزښتونو ته ډير پام کړي دی. پښتنه ټولنه کې پښتني خويونو او پښتني اخلاقو ته پښتونولي ويل کيږي. هر هغه څوک چې پښتو ولري، غيرت او ميرانه ولري، جرئت ولري، مېلمه پالنه ولري، پر خپله وعده او قول وفا ولري، د حق يا ربښته پلويتوب وکړي، په خپل ناموس کلک ولاړ وي، د دښمن سره جګړه وکړي او يا په جګړه کې اتلولي تر سره کړي.هر انسان چې له ځانه ولسي زړورتوب وښايي، هر څوک چې د خپل ځان او د بل عزت، حيثيت، انساني کرامت ته درنښت ولري او همداسي شرم او حيا ولري او کله چې يو انسان د فساد، د بداخلاقيو، بې شرميو او بې ناموسي څخه ډډه وکړي .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

همدا انسان د پښتو او پښتونولي د ارزښتونو احساس په ځان کي لري، د پښتنو په نړيوال فکر او د پښتون د شخصيت په انځور کي، همدغه سړی يوريښتني، ايډيالي افغان پښتون دی.
پښتونولي د پښتون د پاک وجدان په برخه کي وده کوي. افغانيت د سليم عقل او پاک وجدان پر بنسټ تر سره کيږي. پښتونولي انسان له بدو عمالو څخه منع کوي او سمه لار او بده لار ورته ښيي. افغانيت يو انسان د بل انسان متقابل درنښت ته هڅوي، پښتونولي يو انسان ته يوه بېساري فردي ازادي او خپلواکی وربښي.
پښتونولي د يو پاک او صادق انسان په ضمير کي وده کوي. پښتونولي همدلته په يو پاک انساني احساس باندی بدليږي. يو پښتون انسان په دغه پښتني احساس کي ځان ځواکمن، ډاډمن، غيرتمن، خوشاله، نيکمرغه او بريالي احساسولي شي. همدغه پاک احساس په ده کي د ښه او نيکواخلاقو مديريت کوي .د يو انسان په فکرونو کي د ښه او بدو کړنو توپير په ګوته کوي. همدغه احساس يوانسان د خپل پاک وجدان برخه کي د ښو او نيکوعملونو ته هڅوي.
د پښتنو يو بل مثل دی، پښتون هغه دی، چې پښتو لري، نه هغه چې پښتو وايي. پښتانه په دي باور دي، چې پښتونولي د ښه انساني اخلاقو، آدابو، رواجونو، ښه دودونو او لوړو ټولنيزو خويونو يوه مدني ټولګه ده. څوک چې ظلم او ناروا عمل تر سره کوي، د بل حق خوري، بې شرمي، بې غيرتي کوي او خلک بې عزتي کوي، شر جوړوي، دی يو بې پښتو انسان دی.
د افغانيت په ارزښتونو کي يواځي پښتون نه محاسبه کيږي، بلکي د پښتونولي په ارزښتونو کي هر انسان تلل کيداي شي. د بيلګې په توګه د يو چا به پښتو مورنۍ ژبه وي. خو پښتونولي به نلري. د يو بل به پښتو ژبه مورنۍ ژبه نه وي. اما د ده کړه وړه به د پښتونولي په اصولو کي برابر وي، د يو ريښتني پښتون په سترګه کي د ده کړه وړه د پښتونولي په چوکاټ کي تر سره کيږي. دغه ستر با وجدانه انسان په پښتو او د غيرت په لاره کي ولاړ دی او پښتونولي ته يو ژمن انسان دی. کله چې يو انسان په خپل ځان کي مينه، محبت، په ځان باور، ريښتينولي، مساوات، عدالت، سړيتوب، شخصيت او قوي ايمان ولري. دی پښتونتوب کوي .

۱۸ . راټولونه او لنډيز:

ارزښتونه د يو ولس ژور احساسات دي او د ټولني ټول وګړي ځا ن په کي ګډ احساسوي، ټولنيز ارزښتونه ټولنيز معيارونه دي. افغانيت نه يوازې د افغان ملت د حقوقي نورمونه او ارزښتونه يوه ټولمنلي ټولګه ده، بلکي پښتونولي د لرغونو زمانو څخه د پښتنو په ژوند کي لرغوني ميراثي ايډيالوجيکي کوډکسونه دي. د پښتونولي ځيني کانسټټونه لکه لويه جرګه، مشرانو جرګه، ولسي جرګه او ملي جرګه د افغان ملي دولتونو په کورني او بهرني سياستونو کي ستر رول لوبولي دی. د پښتونولي د فلسفي فکر اصلي تمرکز په دې ټکی باندې را ځرخيږي، چې د پښتون افغان ولس د هر يو غړي شتون او عزت د ګواښ سره مخامخ دی. همداسي د هرې قبيلې او ټبر شتون او په ټوليزه ټوګه د ټول افغان ولس برخليک د تل لپاره د افغان ولس د دښمنانو لخوا تر ګواښ لاندې دي. پښتونولي د يو اصيل پښتون افغان ايډيالي انځور او سړيتوب په مساوات، برابري او فردي خپلواکي کي ترسيموي يا په کي ښودل کيږي. پښتونولي پښتنو ته په ټولنه کي د مشرتوب، مشرولي او ولسي يووالي ته لارښوونه کوي او د يو پښتون د انفرادي ژوند کړه وړه لپاره معيارونه ټاکي. د پښتونولي دا نورمونه او معيارونه د اصيلو افغانانو لخوا د زړه له کومي په يو ډير عالي احساس او پاک ضمير سره پلي کيږي.
د پښتونولي اصلي منځ زړي او د ريښتينولی فلسفي فکر هر ريښتني افغان پښتون ته دا ورزده کړي، چې ته، ستا کورنۍ، ستا قبيله، ستا سيمه، ستا ولس، ستا هيواد، ستا مشران او ستا پښتني افغاني ملي هويت، ملي ارزښتونه تل د پردیو له ګواښونوسره مخامخ دي. دا ستا د ننګ او غيرت ايماني دنده ده، چې د بهرني دښمن په وړاندې دفاع او ساتنه وکړي. پښتونولي د پښتنو افغانانو په ستر هيواد کي د سوليز عدالتي ګډ ژوند لپاره هر پښتون ته يوه منلي شوي او د لرغونو ارزښتونو يوه ستره قانونغونډه ده.
پښتونولي يا افغانيت د پښتني ټولنې قبايلي لرغوني ايډيالوجۍ ده. پښتونواله يا پښتونولي پښتنو ته له پلرونو او نيکونوڅخه، له يونسل څخه بل ته، په شفري، شفاهي اوشعري تحريري ډول په ميراث پاتې شوي ده.
د پښتونولۍ د پوهې اصلي مانا په دي کي ده، چې دغه انساني پوهه د انسانانو پر کولکټيفي سالمه ګډه پوهنه باندې راڅرخيږي. پښتونولي له پيړيو پيړيو راهيسې پښتنو ته په پښتنه ټولنه کي د ټولنيز امن او نظم ، ټولنيز عدالت، عدم تشدد، د سوليز ګډ ژوند په لور هدايت او لارښوونه کړي ده .
پښتونولي د پښتون افغان ولس د ملي يووالي او ملي دولتونو ايډيالوجيک بنسټ ايښودلي دی.
پښتونولي د لرغونوزمانو څخه د سوکاله، خوشحاله ټولنې لپاره د باوجدانه با ضميره انسانانو يو ګډ فکر دی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د لويديځ ټول مخورو نامتو ښاغلي ځيړونکي د پښتنو افغانانو د پښتونولي يا فلسفي حقوقي فکر څخه لږ يا ډير يو ډول انځور او پوهنه اخيستي ده.
پښتونولي يا افغانيت په لوی افغانستان کي د ننه او بهر يا په ګرده نړۍ کي د درست پښتون افغان ولس د سړيتوب يا د شخصيت يوايډيالي انځور په ځير پيژندل کيږي.
مسلمان پښتون مجبور دی، چې د پښتونولي مثبت ارزښتونه او نورمونه په خپله پر خپل ځان باندي تطبيق او پلي کړي .د پښتونولي اصول په ډير قوت سره د پښتون افغان ولس په ملي هويت، انفرادي کرکتر او کړو وړو باندي راولاړل شوي دي. د بيلګې په ډول د پښتونولي په حکم او قانون کي سړی له خپل سره څخه هم تيريږي او دا نه مني، چې له پښتي يا پښتونولي څخه ويستل شي. پښتنه ټولنه يوه هويتي دوديزه قبيلوي رنګه ټولنه ده .
د افغانانو تاريخ او د پښتونولي په اړه د نړۍ په تاريخي کتابونو کي او د نړيوالي مدني ټولني هر توکمپوه ، ټولنپوه او حقوقپوه په خپلو ليکنو او څيړنو کي د پښتنو د لرغوني انساني ټولنيزو نورمونو څخه په عزت او درنښت ياده ونه کړي ده. دوی اقرار کوي، او وايي، پښتني ټولنه له پخوا نه کومه ابتدايي، ساده، اسانه يا پريميتيف ټولنه نه وو.
پښتونولي يا پښتون اوسيدل دوديزه قومي قانون دی، چې يو پښتون بايدپه څه ډول په ټولنه کي يو پښتون واوسي. ځکه هرځوک پښتون کيدي نشي، په لومړي سر کي پښتونولي د پښتونو د عزت کوډکس دی، عزت او ننګ د پښتون يوه ستره انساني معنوي شتمنۍ ده .په پښتونولي کي خپل سري عمل او يا پريکړه نشته، هره پريکړه جرګې ته د پوره واک ورکولو څخه ورسته ټاکل کيږي، د جرګې فيصله د قومي لښکر له خوا خامخا پلي کيږي.
په افغانستان کي پښتانه نه يواځي تر ټولو ستر توکم دی، بلکي پښتانه په نړۍ کي هم د شمير په پرتله يوه ستره قبايلي ټولنه جوړوي. په عمومي ټوګه حده اقل پښتانه په ايډيالي انځور کي خپل نارينتوب په برابري، مساوات، فردي خپلواکي کي ښيي. دا د دې لامل کيږي، چې يو پښتون هيڅ وخت بل څوک پر خپل ځان نه مني او دغه حالت بيا په خپله کړکيچونه رامنځته کوي.د شخړې او تاوتريخوالي او زور زياتي کچه راټيټولو يا د کړکيچ د حلو فصلو د ټولنيزو ستونزو ليږي کولو لپاره د پښتنو جرګه يا مرکه د خبرو اترو د يو پلټفورم په ځير په اختيار کي لري.
د څو لسيزو جګړو، ترخوتجربو، کډواليو، ټولنيزو او اقتصادي کمزوتياو زمونږ په افغاني ټولنه کي بنسټيز بدلونه راوستي دي. د څلويشت کلني جګړو په ترڅ کي د پښتنو د لرغوني دودنو او ارزښتونو ترمنځ اعتماد او اعتبار ډير سخت او د پام وړ اغيزمن شوي دی. په خواشيني سره څوک د جرګو پريکړو ته سر نه ږدي .
په افغانستان کي ډېرنيو حالاتو، خوارځواکيو، ناامنيو، جنګ جګړو، د مخدره توکو دولت، په دولت کي مافيايي کړي، اداري فساد، د عدالت او بې پرې قضايي اورګانو د نشتوالي له امله ډيرې خلکو يو ځل بيا خپلو دوديزه کليوالي، کورنۍ او قبايلي ارزښتونو ته مخ وراړولي دی. دا د پښتنو د زرګونو کالونو قومي اصول دی. په ځينو پښتني سيمو کي د جرګو او مرکو واک او اختيار د پردیو پنجابي، عربي ،اوزبکو او چيچينايي سختديځه اسلامي بنسټپالو په واک کي ورغلي دی. دوی د ناپوهه قوماندان ملا په اشاره د پريکړو واک له قومي پښتنو مشرانو، خانانو څخه د جهاد په مهال اخيستي دی، دوی له سختدريزه سياسي اسلامي فکر څخه په پريکړو کي کار اخلي.
مورږ ټول په دې ډير ښه پوهيږو، چې ډيرو خلکو د اسلام له سپيڅلی نامه او قانون څخه په پوهه او يا ناپوهي کي ناوړه ګته اخيستي ده .همداسي د پښتنو په څو زره کلن نه ليکل شوي قانون کي غير انساني، غير اسلامي او غير مدني افغاني دودونه په پوهه او يا ناپوهي کي ورګډ کړل شوي دي. هر غير انساني، غير اسلامي او غير افغاني عمل له پښتونولي سره تړو نه لري. هغه يو جنايي جرمي عمل دی، پښتانه يي نه مني. د جرګو پريکړې چې په ډيرو کي د پښتونولي له حقوقي نورمونو څخه کار اخيستل کيږي، د کليو جرګوال، چې حقوقي زده کړي نلري. د بشري حقوقو څخه ناخبره، د کمي تجربه خاوندان دي او د کم عمر خلکو په لاس کي دي. دوی د پښتونولي اصيل مدني، انساني، افغاني توکي او بلاخره د پښتونولي په فلسفه، ټولنيز عدالت، اصولو او مقرراتو باندي سم نه پوهيږي، پريکړې او فيصلي د زورو او شتمن سړي په ګټه کوي. طبعي ده، چې دا پريکړې او فيصلي د پښتنو د منلو وړ نه دي. له همدي سره د پښتونولي ارزښتونه خلکو ته بې ارزښته کيږي او پريکړې نه عملي کيږي. دغو بې مخو بې ستو پريکړو او فيصلو زمونږ افغاني ټولنه له نورسياسي، ټولنيزو، حقوقي، نويو خپلمنځي تريګنيو، دښمنيو او کړکيچونو سره مخامخ کړي ده .کله چې تاريخ، کولتور ټولنيز اخلاق، مورال، لرغوني دوديزه ارزښتونه او مخور تجربه لرونکي قومي مشران لمنځه ولاړ شي، په ټولنه کي يوه تشه رامنځته کيږي. ټولنيزه وفاداري اعتماد او اعتبار لمنځه ځي، يواځي د زور او زر يا د مادياتو کولتور په ټولنه کي حاکم کيږي .
هيله ده، د افغانستان پوهنتونونه د ژبو او ادبياتو، ټولنپوهنې، د تاريخ او فلسفي پوهنځي هيوادپال افغان محصلين په دې برخه کي پوهنتوني، پوهنيزه څيړني وکړي او ورسره د افغانستان قانون جوړونکي اورګانونه د پښتونولي ځينې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نورمونه د نوي مدني ټولني د قانون په چوکاټ کې له سره ولیکي او د غیر انساني، غیر اسلامي او غیر افغاني، له ویري، نفرت اچوونکو او دښمنیو، تربګنیو ډکو پریکړو، فیصلو مخه ونیول شي.
هیله ده، په ګران افغانستان کې پوهنتوني ځوانان د دې مهمي موضوع په اړه نور دقیق او مؤثق اسناد ومومي او ښې څیړنې تر سره کړي .
هیله ده، چې د پښتونولي دغه نالیکل شوي قانون د یوې رسمي او موتبرې مرجع له خوا ولیکل شي. او په یو ملي زیرمتون کې باید خوندي وساتل شي.
د دې اوږدې لیکنې د لسمې ورستۍ برخې په پای کې زه له درنولوستونکو څخه ښښنه غواړم، که څه هم ما تر خپله وسه د کور، کار او زمور د ټولنیزو ژوند د ځانګړو ستونزو سره سره هڅه کړې او په دغه لیکنه کې ما له بیلابیلو بهرنیو څیړنو، ژباړو او کورنیو منابو او آثارو څخه کوم چې ماته په لاس راغلي استفاده کړې ده. ښایې په دې لیکنه کې ډیرې املایې، انشایې تیروتنې او تخنیکي نیمګړتیاوې شتون ولري. دا یوه جوته خبر ده، چې زه په دې نیم توانیدلي، د پښتونولي په اړه ټول مالومات راټول کړم او په سمه ټوګه د یو پوهنتوني استاد تر څارنې لاندې ولیکم، زه پوهیږم داسې یوه څیړنیزه لیکنه د یو سړی کار نه دی. دا کار د یوې علمي ډلې کار دی. تر څو هر اړخیزه ژوره علمي څیړنه وکړي. ما په خپل توان سره هڅه کړې، چې زه د یو مسلمان افغان په توګه خپله پښتونولي افغانیت په څه ډول پیژنم، ما د یو نه پیژندل شوي او نه څیړل شوي او له پامه غور ځیدلي پښتني سمندره څخه یو څو څاڅکي را پورته کړي دي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ